محمد داؤد مومند ۲۰۲۱/۰۹/۰۱

# زما په شعری مجموعه باندی د اجمل ختک او استاد بینوا تقریظونه

د محترم داکتر صاحب یوسفی سره مرکو، زه دی وتخنولم چی په خپله شعری مجموعه باندی د کوزی پښتونخوا، د نامتو ادیب او شاعر او (د غیرت چغه) د معروف کتاب لیکونکی اجمل ختک، هغه تقریظ تاسی د ادب مینانو ته تقدیم کړم، کوم چی اجمل ختک د والاحضرت سردار صاحب محمد داوود خان، د جمهوریت په لمړی کال کی زما په شعری مجموعه باندی لیکلی وه، همدا راز د پښتنی ادب او پوهی ډیری ځلاندی ځیری او ستوری استاد بینوا صاحب تقریظ هم ستاسی خدمت ته وړاندی کیږی. دلته دا مطلب د تذکر وړ بولم، چی زما د شعری مجموعی نوم «پیغام » وه، خود د والاحضرت سردار داؤد خان د جمهوریت د اعلام سره، ما په خپله شعری مجموعی باندی «د جمهوریت پیغام» نوم کینود، ولی اجمل ختک، دی ټکی ته متوجه شو او ویول چی هماغه د (پیغام) نوم غوره بریښی.

ما خپله شعری مجموعه د اطلاعات او کلتور وزارت ته د خپرولو دپاره وسپارله، خو ماته د تبلیغاتو عمومی مدیر، د اهل تشییع لوی غښتلی واعظ، محمد اسمعیل مبلغ وویل، چی د نشراتو کمیتی د یوه انتقاد له مخی د کتاب د نشرولو څخه معذرت غواړی، او انتقاد هم دادی چی دا مجموعه د علامه اقبال د افکارو د اغیزی لاندی لیکل شویده، چی په خپله محمد اسمعیل مبلغ هم داسی، ناسم انتقاد او تصمیم ته حیران وه.

دلته د یادولو وړ ده چی ددی مجموعی تصحیح خیراند مرحوم استاد عبدالله بختانی په غاړه و اخسته، له بده مرغه زما دا شعری مجموعه، د هیواد د بدو ورځو په ترڅ کی له مینځه ولاړه خو د اجمل ختک او استاد  بینوا صاحب تقریظونه، د روزګار د ګزند نه زما د مشری خور په کور کی په امان کی پاتی شوی دی:

اجمل ختک «ځما د نظر» لاندی داسی لیکی:

زه چه د چا شاعر شعر یا لیکوال ، لیک لولم نو د هغه نقش اثر راباندی غالب وی کوم چه ددغه شاعر یا لیکوال شخصیت ځما په ذهن او شعور د یو وخت راهیسی ثبت کړی وی.

دغه شان دا کمزوری هم لرم چه د ژوند او هنر هری صحنی کښی، هر نقش او اثر ته د خپل ژوند د پرهرونو په سترګو او د زړه د داغونو په ککو ګورم. او د خپل احساس په دردونو یی تلم.

دغه سبب دی چی زه د چا په شعر یا کتاب څه ولیکم نو ځما په هغه خپل لیک، یو تنقید داوی چی ځما لیک په هغه شعر یا کتاب کم وی، کوم چی تر بحث لاندی وی، او د لیکوال د شخصیت په هغه اړخ زیات وی چی ځما په فکر او شعور کښی یی ځای نیولی وی، او بل داچی ځما داسی تحریر د خپل ژوند د مرام د هغه آرزوګانو اظهار وی چی ددغه شخصیت نه یی، هیله لرم. او څکه چی کوم لوستونکی د چا په شعر یا کتاب ځما د قلم تأثرات لولی، نو هغوی دی ځما دا کمزوری د نظر لاندی ساتی. دغه کیفیت اوس پدی وخت کښی چه زه د خپل خوږ او راته ګران زلمی محمد داؤد مومند په «پیغام» نوی اشعارو کی دا لیکل کوم، هم دی.

محمد داؤد مومند، ما په وروستي ځل د کابل ښار کښی، د راديو افغانستان تالار کښی، د خوشحال بابا د بين المللی سيمينار په دوران کښی دده په هغه شوق او مينه خوښ شو، چه ده ددغه سيمينار په مقالو او مضمونونو کښ يی بابا د مليت او حميت د موضوعاتو سره لرله.

ددی ورځی نه پس چی ما دده د فکر او عمل نه ځان خبرولو. نو چی څومره خبريدم ، دومره خوشحاليدم، ځکه چی دده مينه، ولوله او اراده راته د افغان اولس د مستقبل د تکميل، تعمير، ترقی او خوشحالۍ په ميدان کښی په زياتيدو او تيزيدو ښکاريده، او دده په مومندو رګونو کښی راته د ايمل خان مومند د وينی غزونی څرګنديدی، دی معلوماتو ځما په ذهن او شعور دده دشخصيت نه د هيلو نقش پخولو او ځما دده د ځوان فکر او نوی وينی نه د ملت ميدان کښی د خدمت طمع زياتيده.

ځما ددی څو ټکو ليکلو نه پس که اوس زه دا ووايم چی محمد داؤد مومند په خپلو رباعياتو کښی، چی تر بحث لاندی کتاب دی، که هر څو د فکر آس په ډيرو دنګو غرونو او ګل رنګه ورشو ګانو زغلولی او د علامه اقبال د فلسفی په لوړ او ژورو يی د پښتنی باز هسی پروازونه کړی دی، خو ځما يی په دی ګلدسته کښی د بل هر کوشش نه زيات دا رنګ خوښ دی:

دغــــه فکـــر بابـــا کـــانو راښـــودلی
د نسـيم پـــه نظـــر ګورمـــه توفـــان تـــه
څـــو پښـــتو راســـره ملـــه وی ژوندانـــه کښـــی
پـــه پـــردو ســـترګو بـــه نـــه ګـــورم جهـــان تـــه

دغه شان دا وينا يی:

آواره پـــه ســـحرګاه لکـــه شـــميم يـــم
فـــراری او بـــی پنـــاه لکـــه نســـيم يـــم
تـــل ژريـــږم پـــه محنـــت د غـــم زپلـــو
بيکســـانو تـــه ملګـــری او هـــم نـــديم يـــم

د ا شعر د محيط د غم زپلو او د وخت د بی کسانو سره د ملاتړ او ملګرتيا د ارادو هنداره ده چه ژبه يی د شعر ده خو احساس يی د غيرت دی. دده په شاعرۍ کښی دا ټکی ځما غوندی خلکو د خوښی سبب ګرځی، ځکه چی که ددی عصر زلمی ، افغان زلمی، تش شميم او نسيم شی، يا فراری او بی پناه هم شی خو چه د خپل محيط د غم زپلو په محنت اونه ژاړی او د خپل ملت د بيکسانو ملګری نشی، نو څه شو؟ او څه به شی؟

زه چه شعر او هنر د ژوند د حقيقتونو يوه داسی هنداره ګڼم چی ژوندی اولس د بشر د نهضت، خوشحالی او اطمينان لوری ته متوجه هم کړی، ګرندی هم، نو ځکه شاعری نه خو د «ساعت تيری» يو ساز او سامان ګڼم او نه يی د ذهنی عياشی يوه لوبه بولم، بلکه د ژوند د لوی ژور سمندر په تورو تيرو کی د مرام ملغلرو پسی غوپی «غوتی» ورته وايم، او ځکه راته د محمد داؤد د شاعری دا برخه، چه په کښی د جرئت او کلکی ارادی سبق دی ډيره ښه ښکاری:

چـا چـی کـړی لـه خطـره دار او څنـګ دی
پـه رښـتيا چـی د ټـولنی عـار او ننـګ دی
لاهـو کـړی مـی بيـړی پـه هغـه سـيند ده
چی څپو کښـی يـی د غـر پـه شـان نهنـګ دی

ولی سره ددی تولو خبرو، شاعری، شاعری ده او وعظ، وعظ دی، یعنی د شاعر او واعظ په ژبه او کلام کښی فرق دی. شاعر په رنګینه ژبه او ښائسته وینا کښی سړی د هنر او خیال په تال زنګوی یا د مینی په پسته او د ښکلا په خوږه ډولی کښی یی په مستی مستی د ځان سره ملګری کوی او د مقصد په لوری په تیزئ سره روانوی، نو ځکه که یو سړی ځان ته شاعر اووایی . ډیری قافیی او ردیفونه یاد کړی او بیا ډیره منظمه وینا اوکړی خو چه شاعری په کښی نه وی نو مثال یی داسی شو لکه د کاغذ ګلونه.

تاسو ته د« باباګانو د فکر تابع» د «غم زپلو» د «غره په شان نهنګانو نه ویریدونکی» محمد داؤد مومند کلام کښی ځما په سترګو، د ایمل خان مومند د پښتنی او غیرتی وینی حرارت وینی، نو راشئ چه درته په کښی د باړی د قلندر رحمان بابا د شعر لطافت او نزاکت هم وښایم، دا شعر یی ولولئ:

زما خاوره د سحر نسیم ته کیږدئ

د آرزو د سرو ګلونو ګلستان یم

دا وه د محمد داؤد مومند د اشعارو مجموعه «پیغام» ځما په نظر کښی ، بلکه داسی به ووایم چی داؤد ددی زلمی شاعر د شعرونو دی ګلدستی کښی د هغه ګلونو رنګ او خوند چه ځما د زړه په زخمونو کښی ورځنی دژوند د پسرلی ښائست ومسیدو.

دعا می داده چه ددی زلمی فکر او قلم کښی دی خدای نور هم برکت واچوی چه د شعر په ژبه د خپل اولس د ژوند سندری اووایی او دغه شان د خپل اولس ژوند، د مرام د پسرلی په ورمو یا د مقصد ، د خوبانو د زلفو په خوشبو معطر کړی.

رحمان بابا وایی

چی هیواد د افغانانو معطر شی

د هر بیت مصرع می زلفی د خوبان کړی

اجمل ختک

د استاد بینوا صاحب تقریظ:

دا پیغام

د پښتو ژبی د حساس زلمی شاعر«داؤد مومند» د انسانی عواطفو او پښتنی احساساتو ځلاندی پلوشی دی چی زیادتره یی د علامه اقبال د فلسفی افکارو د ځلاندو وړانګو تر اغیزی لاندی ځلیږی.

دا نه یوازی د ځلمی شاعر د زلمیتوب احساساتی پیغام دی چی د خپل خاطر د تسکین دپاره یی د شعر په بڼه کی یی څرګند کړی دی، بلکه دا زلمی شاعر په خپل دی پیغام کی ځینی انسانی او جهانی هیلی، او ځینی پښتنی او افغانی آرزوګانی او تمناوی هم لری چی په ډیری آرزومندئ خپل اولس او خپلی افغانی ټولنی ته وړاندی کوی، او خپل اولس ددی زمانی په چال چلند خبرول او له خوبه راویښول غواړی، د قوم نیمګړتیاوی ور په ګوته کوی، او د نیکونو برم او ویاړونه ور په یادوی.

زه «داؤد مومند» ته دده پر انسانی او پښتنی پیغام مبارکی وایم او د پښتو ژبی او د پښتانه اولس د خدمت په لاره کی لا نور بریالیتوب ورته غواړم.

بینوا


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com

اهداء: د اجمل ښتک او استاد بینوا د فکر او نظریاتو ارادتمندانو او د شعر او ادب مینانو ته.

محمد داؤد مومند



برای مطالب دیگر محمد داؤد مومند روی عکس کلیک کنید